ISSN Online: 3006-4708
ISSN Print: 3006-4694
SOCIAL SCIENCE REVIEW ARCHIVES
https://policyjournalofms.com

# A Analytical Study of Love and Mysticism in the Poetry of Hameed Baba

**Qasim Qurban Kheshki[1]**
[1] MPhil Scholar AIOU Islamabad

**DOI: https://doi.org/10.70670/sra.v3i4.1780**

**Abstract**
The renowned classical poet Abdul Hameed comes from group of Pashto poets, who, besides having a unique taste in Pashto poetic tradition, had commendable command on Persian literary as well. So, mostly he comes up with unusual ideas, poetic sublimity, and selection of words, that seems purely of his own and never borrowed in its totality from other languages. This paper focuses upon the metaphysical definition, structure, impact, and reaction of love,
terminologically called, Ishq. Consequently, the spiritual status of love or spiritual love has been focused upon, supporting, and defining it with his own verses, derived from his Deewan. An attempt has been made to explore some hidden horizons of the topic with the help of his poetic thoughts.

## د حمید بابا د عشق او عرفان یو تجزیاتي مطالعه

د پښتو کلاسیکي شاعرۍ په لړکښې چې کله هم د **عبدالحمید بابا ذکر کیږي نو د مجازي عشق لاحقه ورسره ضرور تړلی کیږي او خبره تر امردپرستۍ رسیږي**-خوکهٔ شاعرۍ ته ئې په ژور نظر سره وکتے شي، نو دا به روښانه شي **چې بابا د یوخالص عرفاني فکر خاوند دے، چې د انسان د وجود، کائنات او حقیقت** د پېژندنې په اړه ستر مفاهیم وړاندې کوي . دغه شان د دوي په شاعرۍ کښې عشق د عرفان یو لازمي پړاو دے،چې یواځې د ظاهري ښکلا او مجازي معشوقې سره تړلے نهٔ دے، بلکې د هغه لایزالي حسن او مطلق حقیقت سره تړلے دے،چې ادراک ئې د زړهٔ د سترګو نه بغېر ګران څهٔ چې ناممکن دے .

کلام ئې د عرفاني شاعرۍ هغه سلسله دواموي چې په کښې د انسان انا ماتیږي او په حقیقت کې فنا کیږي.دلته دا وضاحت هم ضروري دې چې حمید د تصوف د کومې خاص سلسلې سره تړون هم نهٔ لري او نه ئې د چا مریدي اختیار کړې ده ، خود فکر ژورتیا او د الفاظو سادګي او موشګافي ئې لوستونکي د حقیقت درک ته رسوي.د دنیا د فاني ښکلا نه د یو ابدي حقیقت په لور د انسان سفر بیانوي او د عشق د لارې د حقیقت موندلو دعوت ورکوي.خو دا هرڅهٔ د لوستونکیو په فکري سطح انحصار کوي،څومره هم چې فکري سطح اوچته وي، هم دومره به ئې دشعري د ژورتیا کوزیږي او خوند به ترې اخلي- دې مقاله کښې دغه واړه خبرې په نظر کښې ساتلے شوے دي دحمیدبابا څنګه د مجاز نه حقیقت ته اودانساني ښکلا نه نه معرفت ته روان دے-مخکښې له دې نه چې د حمیدبابا په شاعرۍ کښې دغه هرڅهٔ وڅېړو،د اسلامي لټریچر نه د عشق او عرفان په اړه څهٔ دلائل هم وړاندې کړو-

عشق څهٔ ته وائي:

د "عشق" کلمه د عربی د" **عشقه** "نه اخستل شوې ده.،چې په اصل کې د یو داسې بوټي نوم دے چې د نورو ونو یا بوټو نه تاوېږي او ورو ورو یې تر خپل واک لاندې راولي. د هم دې مثال په اساس، د عشق کلمه هغه سخت او ژور محبت ته ویل کېږي چې عاشق د معشوق نه جدا کول ناممکن ګڼي،مطلب د زړه ټولو هېلو او غوښتنو محور او مرکز ئې هم دغه معشوق وي- په عمومي توګه د علم و ادب او په خاصه توګه د تصوف استاذان عشق په دوه برخوکښې وېشي،چې یوه مجازي عشق او بله د حقیق عشق په نوم بللے شي-مجازي عشق نه مراد هغه محبت چې یو انسان د بل انسان، د ښکلا، معشوقي یا ظاهري څېزونو سره لري،چې د نفساني خواهشاتو نه ماورا هېڅ ممانعت او قباحت نۀ لري،بلکې په اساس ئې بنده د غور او فکر او تدبر دنیا ته ورګډېږي،چې هم دغه د عشق مجازي پایه او د عشق حقیقي اغاز ګڼلے شي-حقیقي عشق د خالق حقیقي سره د مخلوق د محبت او د ځان فنا کولو احساس وي. په عرفان او تصوف کښې عشق د انسان او الله تر مېنځه هغه رابطه ګڼلےکېږي چې په کښې د عاشق خپل ذات، خواهشات، انفرادیت او وجود له مېنځه ورړلے شي او په معشوق کښې"فنا"کېږي-پښتوکلاسیکي شاعرۍکښې هم دواړه لازم اوملزوم ګڼلے شوي دي،خو مرکزیت په کښې عشق حقیقي ته حاصل دے-عشق حقیقي په اصل کښې د مطلق حسن په لټون کښې په مظاهرو کښې دانجذاب نوم دے او په دغه مظاهرو انسان ته د افضلیت مقام حاصل دے-"ډاکټر نفیس اقبال لیکي چې:

انسان سب سے اعلی و ارفع جمیل حقیقی ہے-اس لیے محبت کا انتہائی مرتبہ یعنی عشق بھی اسی کے حصے میں آیا –عشق جمیل حقیقي کے اپنے اصل کمال کی جانب میلان کا نام ہے-(۱)[i]

پښتو ترجمه: انسان تر ټولو لوړ او معزز مخلوق دے-هم د دې وجې د مینې تر ټولو لوړ مقام یعنې عشق هم د دۀ په برخه رسیدلے دے-عشق د حقیقي جمیل ذات (جمیل حقیقي)په لور د انسان د طبعي مېلان نوم دے"-

د برني عبارت په وړومبۍ جمله د قراني تصور عکاسي کوي ،چې انسان د الله تعالی د ټولو اعلی او ارفع مخلوق دے ،ځکه چې دۀ ته عقل ورکړے شوے دے،اراده او اختیار ورکړے شوے دے،او ورسره د خداے د معرفت اهلیت هم لري- مطلب دا محض جسماني مخلوق نۀ دے ،بلکې یو متوازن امتزاج دے د جسم او روح –چرته چې دې یو اړخ ته دې دنیاوي ضروریات لري نو بل اړخ ته داسې صلاحیتونه هم ورکړے شوے دي ،چې د الله قربت او روحاني کمال پلوئې هڅوي او دا هغه ځانګړنې دي چې انسان د نورو مخلوقاتو نه ممتاز کوي-دویمه جمله چې عشق د "جمیل حقیقي په لور د انسان د طبعي مېلان نوم دے" یوه ډېره معتبره او ژوره جمله ده –د عشق نه مراد دلته عام محبت نۀ دے بلکې هغه پاکیزه عشق دے چې د خداے سره کېږي-جمیل حقیقي نه مراد خالق کائنات چې یو بې مثله حسین دے ،د انسان طبعي مېلان نۀ مراد د انسان د روح رجحان ،راښکون او کشش چې د خپل اصل مقام یعنې د حقیقي حسن په تلاش کښې دے-په لنډو ټکیو کښې مونږ داسې وئېلے شو ،چې عشق د محبت هغه شکل دے چې بنده فنا،بې خودۍ او حقیقت اړخ ته بیائي چې صرف او صرف د انسان خاصه کېدے شي-مولانا جلال الدین رومي د عشق متعلق فرمائي چې:

عقل در شرحش چو خر در گل نجف
شرح عشق و عاشقی هم عشق گفت(۲)
گر چه تفسیر زبان روشن گرست

لیک عشق بے زبان روشن ترست(۳)
مطلب دا چې عشق د ژبې په شان د لفظونو محتاجه نهٔ دے،بلکې دا یو باطیني کیفیت دے ،چې بیانېږي نه بلکې احساسات دي یعنې محسوسیږي-
مجدد الف ثاني په مکتوبات کښې د محبت ارتقائي سفر چې له عشق تربامه رسېږي،د انسان د عمري پړمختګ سره څۀ دا ډول تمثیلوي:
""دوسری مثال نسا ن کے بچپنے کی ہے-آدمی شیرخوارگی کے زمانے سے برابر بڑھتا جاتا ہےاور عمر کی ایک حد تک پہنچ جاتاہے-تو نمو میں کمال کا درجہ حاصل کرلیتا ہےاور گٹھنا شروع ہوجاتاتا ہےیہاں تک کہولت اور بڑھاپے کے سن میں پہنچ جاتا ہے-محبت کا حال بھی اسی طرح ہے-پہلے محبوب کا حسن و جمال دیکھنا نظرسے تعلق رکھتا ہے اور اس کا اشتیاق ہر وقت بڑھتا جاتا ہےاور محبت اپنے کمال کے درجے تک پہنچنا چاہتی ہے،جب اپنی انتہا کو پہنچ گئی اور اس سے آگے نہیں بڑھ سکتی تو خواہشات سے آزاد اور نفسانی تعلقات سے بری ہوجاتی ہے-انتہائے محبت میں وصلاور ہجر اور رنج و راحت اور نزدیکی و دوری سے بے پرواہ ہوجاتی ہے-یہاں تک پہنچ کر اس مین نقصان آنے لگتاہےاور ہر خواہش کو خیر باد کہہ دیتی ہےاور عشق کے مقصد کو پہنچ جاتی ہے-یہاں اس کانام عشق ہوجاتاہے"(۴)-
پښتو ترجمه: دویم مثال ئې د انسان د ماشومتوب دے،چې سړے له شیرخوارۍ څخه په پرله پسې وده کوي ،تردې چې یوې ټاکلې مرحلې ته رسیږي-بیا په وده کښې د کمال درجې ته رسیږي او له هغې ورستو په ښکته راتلل شروع کیږي او دغه شان د ځوانۍ له عمر ورستو د بوډا والي عمر ته رسیږي-د محبت حال هم داسې دے-په وړمبۍ مرحله کښې د محبوب حسن او جمال د سترګو له لیدلو سره تعلق لري-محبت غواړي چې د خپل کمال درجې ته ورسیږي او کله چې خپلې انتها ته ورسیږي او نور مخکښې نهٔ شي تللے،نو د خوهشاتو او نفسیاتي غوښتنو نه ازادیږي-د محبت په دې انتها کښې بیا وصل او هجر ،رنځ او راحت،نزدیکت او لرې والي نه بې پرواه کیږي-کله چې دې مرحلې ته ورسیږي ،نو بیا په ښکته راتلو حالت راځي او د هر ډول خوهشاتو ته شا کوي او د عشق مقصد ته رسیږي او دلته ئې نوم عشق کیږي"--

## عرفان :

د عرفان لغوي معنی پېژندګلو یعني یو څیز په کامله درجه کښې پیژندل-
لکه چې وئیلے شي: «من عرف نفسه فقد عرفه ربه- د اسلامي روحاني علومو په دنیا کښې تصوف او عرفان دواړه د الله تعالی د قرب ،معرفت او باطني پاکوالي لارې ګڼلے کیږي-په تصوف کښې د پیر نه لاس نېوے یعنې بیعت او سلسله لازمي ګڼل کیږي،ځکه چې دا یو عملي تربیتي او تزکیې اساس جوړوي-په عرفان کښې دا لاره اختیاري ده-تصوف د پیر لاس ته اړتیا لري خو عرفان د الله یا حقیقت پېژندنه د انسان باطن ،وجدان او شهود له لارې حاصلوي نه د ظاهري پیر یا د سلسلې د لارې- په نورو ټکیو کښې به داسې اوایو چې عرفان د انسان شعوري او فکري هڅه ده ،چې د کائناتو او د ژوند د حقائقو د تدبر له لارې د الله تعالی د ذات ،حکمت او قدرت یو ژور معرفت ترلاسه کړي،لکه د فکر له لارې حق ته رسېدل،د عقل او شعور ژور استعمال،د فطرت ،تاریخ او ژوند له نخښو د خالق پېژندل او شعورا د الله تعالی د صفاتو درک کول ،نه چې د وجداني یا غیر عقلي تجربو تابع شي-
مو لانا وحیدالدین په کتاب معرفت کښې لیکي:
معرفت سے مراد معرفت خداوندی ھے-حق کی معرفت ایک شعوری دریافت ہے ،حق کی معرفت کسی قسم کی پراسرار کیفیت کا نام ہیں-معرفت انسان کو اندھیرے مین نہیں ملتی ،بلکہ کسی انسان کو اجالے میں ملتی ہے-معرفت کے حصول کا ذریعہ مراقبہ نہیں،معرفت کے حصول کا صرف ایک ذریعہ ہےاور وہ غور و فکر ہے(۵)
"" پښتو ترجمه:د معرفت نه مراد د خداے معرفت (پېژندګلو )ده-د حق معرفت یو شعوري دریافت دے،د حق معرفت د یو پر اسراره کیفیت نوم نهٔ دے –معرفت انسان ته په تیارهٔ کښې نه ترلاسه کیږي،بلکې په رڼا کښې ترلاسه کیږي-د معرفت د حصول ذریعه مراقبه

نه ده ،بلکې د معرفت د حصول محض یوه ذریعه ده او هغه ده غور او فکر(""- په دې عبارت کښې د مراقبې نه مراد د تصوف روایتي مراقبې ته اشاره ده،په عام حالت کښې یعني بغېر د کومې تصوفي سلسلې د تقید نه په کائنات کښې غور او فکر کول ترې نۀ دي مراد - وړاندې لیکي چې :

قرآن کی سوره الذريات مين بتايا گيا ہے کہ جن اور انس کو صرف الله کی عبادت کےلیے پیدا کیا گیا ہے(۵۱:۵۶)اس آیت میں عبادت سے مراد معرفت الہی ہے-آیت کی ي یہ تفسیر عبدالله بن عباس اور علی بن ابی طالب کے قول پر مبنی ہے(۶)

د قران کريم په سوره الذريات کښې وئیلے شوے دي ،چې جن او انس صرف د الله تعالی د عبادت دپاره پیدا کړے شوے دي-ایت کریمه کښې د عبادت نه مراد معرفت الهی دے-د ایت دا تفسیر د عبدالله بن عباس او علی بن ابی طالب له اړخۀ شوے دے-

ډاکټر نفیس اقبال د معرفت درې قسمونه بیانوي،معرفت عقلي،معرفت عقلي او معرفت کشفي-

۱-معرفت عقلي: یہ ہے کہ دلائل عقلیہ سے حق سبحانہ تعالی کو پہچانے جیسے فلاسفروں نے پہچانا اور اس کے دلائل قائم کیے ہیں-یہ معرفت بہت ناقص ہے-(۷)

پښتو ترجمه:معرفت عقلي په دلائل عقلیه سره د حق سبحانه تعالی د پیژندګلو هڅه کوي ،کله د فلاسفرانو په شانې چې خپل دلائل ئې ورله قائم کړے دي – دا د معرفت ډېر ناقصه دے-

۲-معرفت علمي :معرفت علمي یہ ہے کہ دلائل عقلیه اور دلائل نقلیه سے حق تعالی کو پہچانے جیسے علما متکلمین-چونکہ دلائل نقلیہ انبیا کرام علیهم السلام سے منقول ہیں اور جو دلائل عقلیہ ان کے مطابق ہیں جیسے علم کلام کی ،وہ فلسفیو کے دلائل سے بہت قوی ہوتی ہے-اسلیے معرفت علمی معرفت عقلی سے بہت قوی ہےاور معرفت علمی سے راہ حق معلوم ہوجاتی ہیں لیکن واصل بحق اس سے نہیں ہوتا جب تک کہ راہ سلوک طے نہ کرے "(۸)-

پښتو ترجمه:معرفت علمي دا دې چې په دې کښې په دلائل عقلیه او دلائل نقلیه سره د حق تعالی د پیژندګلو هڅه کیږي،لکه علما او متکلمین-چونکې دلائل نقلیه د انبیاکرام علیه السلام نه منقول دي او کوم دلائل عقلیه د دې مطابق وي لکه د علم کلام ،نو هغۀ د فلسفیانو د دلائلو نه زیات قوي وي-معرفت علمي سره د حق لاره معلومیږي ،خو ترکومې چې د سلوک لارې نۀ وي ترسره شوے ،واصل بحق نۀ ترلاسه کیږي(۱۲)

په دې دواړو اقتباساتو کښې دوه نقطې ډېرې مهمې دي،یوه دلائل عقلیه او بله دلائل نقلیه-د دلائل عقلیه دا معنی چې لکه د فلسفیانو په عقلي ثبوتونو سره خپله منشا او مقصد بیانوي،چې د معرفت په رو سره د ناقص معرفت ګڼلے شي- دویمه نقطه د دلائل نقلیه نه مراد هغه دلائل یا ثبوتونه چې د وحي یا قرآن او حدیث د مصادرو نه حاصل شوے وي-هم دا دلائل نقلیه په معرفت خداوندي کښې د ملا د تیر حېثیت لري ،ځکه چې د دې جرړې د انبیا علیه السلام ته رسي ،چې هېڅ قسمه د شک څۀ ګنجائش په کښې ممکن نۀ وي-په دې اساس د فلسفې او عرفان توپیر مونږ اوس ډېر په اسانه کولے شو- کله څنګه چې مخښکې ذکر وشو چې د فلسفې کار د دلائل عقلیه سره دے –د دې په مقابله کښې کۀ په ظاهره دلائل نقلیه رد کوي نه خو اساسي اهمیت هم نۀ ورکوي-بل اړخ ته عرفان د عقل نه مکمل انکار نه کوي خوپه خالص عقلیت مبني فلسفه ناقصه او محدوده ګڼي،دوي عقل،نقل او د زړۀ مشاهده د کلي معرفت سره تړي-په لنډو ټکیو کښې به داسې اوویو چې عرفان دلائل نقلیه رد کوي نه بلکې په روحاني تجربواو مشاهدو کښې ئې جذب کوي،چې د رسمي حانقاهي نظام پابند نۀ وي،او هم دانقطه عرفان د فلسفې نه ممتازه کوي هم- د تصوف او عرفاني علومو لوےعالم محمد حفیظ الرحمن سوهاروي هم دغه نظر لري-

تصوف اور معرفت کښې لیکي چې:

.عارفین کے مختلف اصناف ہیں اور سلوک کی الگ الگ راہیں ہیں اور مراتب جدا جدا ہیں اور منزلیں متعدد ہیں. کسی عارف نے الله تعالی کو اس کی قدرت سے پہچانا ہے اس لئے اس پر خوف کا غلبہ ہے کسی عارف نے اس کو اس کی مہربانیوں سے پہچاتا ہے اس لئے اس پر حسن ظن کا کا غلبہ ہے. کسی نے اسکو اپنے غورو فکر سے پہچانا ہے اس لئے اس پر عقیدت و اعتقاد کا غلبہ ہے کسی نے اس کو اس کی عظمتوں سے پہچانا ہے اس لئے اس پر خشیت کا غلب ہے. کسی نے اس کو اس کی کارسازیوں سے پہچانا ہے اس لئے اس پر بے چارگی کا غلبہ ہے. کسی نے اس کو اس کے لاشریک لاثانی ہونے سے پہچانا ہے اس لئے اس پر سادگی و بے ریائی کا غلبہ هےقدرت الہی کو جو جس قدر جانتا ہے اس درجہ وہ خوفزدہ رہتا ہے فصل قدمی کو جو جس قدر جانتا ہے اس درجہ وہ حسن ظن رکھتا ہے ، مراقبہ حق کو جو جس قدر معمول میں رکھتا ہے اس درجہ وہ صدق و صفا پاتا ہے، عظمت خداوندی کو جس قدر جانتا ہے اس درجہ وہ خشیت حاصل کرتا ہے، کارسازی مولی کو جو جس قدر جانتا ہے اس درجہ وہ محتاجی کو معلوم کرتا ہے وحدانیت یزدی کو جو جس قدر جانتا ہے اس درجہ وہ بے ریائی کو

وصول لیتا ہے(۹)

پښتو ترجمه:
""عارفان بېلابېلي ډلي لري، د سلوک لارې يې جدا جدا دي، درجې يې جدا جدا دي، او منزلونه ئې هم متعدد يعني ډېر دي.يو عارف الله تعالى د قدرت له مخې الله پېژندلے، نو په هغه وخوَف غالبه دے. بل عارف د الله له مهربانيو الله پېژندلے، نو په هغه حسنِ ظن غالب دے. بل د فکر او تأمل له لارې الله پېژندلے، نو پپ هغه عقيده او عقيدت غالب دے. بل الله د عظمت له مخې پېژندلے، نو پر هغه خشيت غالب دے. بل د الله د کارسازئ له لارې پېژندلے، نو په هغه عاجزي او بېوسي غالب ده. بل د الله د وحدانيت او بې مثله والي له لارې پېژندلے، نو په هغه سادګي او بې ريايي غالب ده.د الله قدرت هر څوک چې څومره ښه پېژني، هغه هومره ډېر ويرېدلے وي. د الله له ازلي فيصلو هر څوک چې څومره پوهېږي، هغومره ډېر حسنِ ظن لري. څوک چې د الله مراقبه په دوامداره توګه کوي، هغومره ډېر صدق او صفا ترلاسه کوي. څوک چې د الله د عظمت شعور لري، هغومره ډېر خشيت احساسوي. څوک چې د الله کارسازي درک کوي، هغومره ډېر محتاج او عاجز ځان ګڼي. څوک چې د الله د وحدانيت حقيقت درک کړي، هغومره ډېر بې ريا او ساده ژوند غوره کوي""- د دې اقتباس خلاصه دا شوه چې ټول عارفان په يو حالت کښې نۀ وي ،بلکې هر يو الله تعالى د يو خاص صفت له لارې پېژني،مطلب د تصوف کومې مخصوصې سلسلې يا خانقاهي نظام پورې محدود نۀ وي،بلکې عارف ډارک په ذاتي مشاهده ،تفکر،قلبي وارداتو معرفت حاصلوي- په نورو ټکيو کښې به مونږ داسې اووايو چې عرفان يو باطني او شخصي سفر دے ،چې له ظاهري تقليد نه مخښکې باطني اتصال ته اهميت ورکوي-

## د حميد بابا عشق او عرفان:

د حميد بابا د فکر په اړه عموما چې خبره کېږي،نو د مجازي عشق زمزمې ورسره سمې تر غوږو کېږي،لکه ډاکټر انوار الحق جيلاني د در او مرجان په مقدمه کښې ليکي: "د حميد غوريز مضمون او د خوښې موضوع چې په کوم محور د دۀ ټوله شاعري چورلي،حسن او عشق دے او عشق ئې هم مجازي دے''-دې کښې هيڅ شک نشته چې د دۀ شاعري په موضوعي حواله د حسن او عشق نه چاپېره چورلي،خو بيا دا چې عشق ئې مجازي دے،د مدون خپل خيال کېدے شي،خوپه ډېر معذرت سره اتفاقي حېثيت ئې ډېر کمزورے دے-دحميدبابا په شاعرئ کښې د حسن او جمال تذکرې محض تر مجازه محدود نۀ دي بلکې د يوې لارې يا دروازې تر حده محدود دے ،چې د حقيقي عشق قلعه ته پرې وردننه شوے دے او دغه حقيقي عشق بيا د روايتي معنوي قيد نه ازاد د يو پاکيزه حقيقي عرفاني عشق په شکل کښې راڅرګند شوے دے- د عرفاني عشق د وارداتو اظهار او ورسره سبک هندي د مسند علمبرداري،دواړه داسې لاملونه دي، چې د موشګاف عبدالحميد فکري وسعت ته سطحي لوستونکي هغه رنګې معنوي اپروچ نۀ شي کولے،د کوم چې دې حقدار دےاو دا احساس دوي ته په خپله هم شوے دے،لکه وائي:

د حميد له فکره مۀ غواړه عام خلق
د زربفتو قدر څۀ زده بوريا باف(۱۰)

شعر د عرفاني فکر سره ژور تړاو لري-عرفان چې د باطيني بصيرت او معنوي شعور ژوره تجربه ده ،تل دا پيغام ورکوي چې ظاهري ښکلا يا مادي ارزښتونه د حقيقيت معيار نۀ دے-"" د حميد له فکر مۀ پوښته عام خلق "' د عرفاني تفکر هغه اصل څرګندوي چې روحاني اسرار د هرچا د پوهې خبره نۀ ده- "عام خلق " د هغو خلقو نخښنه ده چې د ظاهري عقل ،دنياوي علم او حواسو پورې محدود وي-دعرفاني فکر ښتنان په عامه توګه باطيني حقائق له خلقو نه پټ ساتي،ځکه چې ادراک ئې نۀ شي کولے- دويمه مصرع کښې ""د زربفتو قدر څۀ زده بوريا باف"" زربفت د قيمتي او ظاهري ښکلا سره علاقه لري او بوريا باف د هغه چا علامت دے چې د حقيقي ښکلا قدر نۀ پېژني-مطلب هغه څوک چې سطحي شعور لري ،خو د عرفان يا د حقائقو ژور ارزښت ته رسائي نۀ شي کولے-دا د دې خبرې ښکاره ثوت دے،چې د حميدبابا لفظونو ته په معنې نه ،بلکې معنې ته په لفظونو تقدم ورکوي-
د سر دلبراں مصنف ليکي چې:
"عالم الفاظ مثل عالم اجسام کے مقیدھے اورعالم معاني مثل عالم ارواح وسيع بلکه غير متناهي هے (۱۱)
پښتو ترجمه:

""عالم الفاظ په مثل د اجسامو مقيد دي يعني محدود دي يا انتها لري او عالم معاني په مثل د ارواح وي يعني وسيع بلکې غېر متناهي وي"" د حميد بابا موشګافي هم په دې تناظر کښې يوه فراخه معنياتي دنيا لري،چ ې په خپل سياق و سباق کښې د ژور اپروچ تقاضا کوي-

کۀ مې نۀ زمويے په وياړ د وړو سترګو

مئے د عشق په مېخانه کښې د مجاز را(۱۲)

د عرفاني شاعرانو په نزد مجازي عشق يوه ازموينه او د معرفت ابتدا ده-هم دې فکري او عرفاني تسلسل کښې حميد بابا دمعشوق حقيقي په وړاندې يوه عاجزانه التجا کوي،په وړومبۍ مصرع کښې"د وړو سترګو" د محبوب برحق د وصل دپاره د يو استعاراتي ترکيب په توګه راوړي،او دا تمنا کوي،کۀ چرې د عشق حقيقي لوړو منزلونو د اپروچ توان نۀ لرم،نو"مئے د عشق په مېخانه کښې د مجاز را" د مجاز غوښتنه د حقيقت دپاره مشق او معرفت په معنی ده ،چې زمونږ د عمومي تعبرونولکه محض مجاز ته راجع کول،امرد پرستي او داسې نور په ضد يو مستند داخلي دليل دے-هغه په جار د خپل خالق سره همکلام دے چې ""مئے د عشق"" را،چې مراد ترې د معرفت د هڅې توفيق دے- يعني "مئے په معنی د دنياوي شرابو نه،بلکې د معرفت په معنی دے-تفسير تبيان القران د جنتياتو متعلق ليکي چې: وہ جنت میں شراب کے جام کےلیے ایک دوسرے پر جپھٹ رہے ہوں گے جس منٰ نہ کوئی بے ہودگی ہوگی اور نہ کوئی گناہ(۱۳)-

پښتو ترجمه:هغوي به (جنتيان)په جنت کښې د شرابو د جامونو ترلاسه کولو دپاره د يو بل نه مخکښې کېږي-

مخکښې ليکي:"" اہل جنت شراب پی کر ایسے کام نہیں کریں گے جن کی وجہ سے ان کو گناہ کی طرف منسوب کیاجائے –جیسا کہ عام لوگ دنیا میں شراب پی کر جھوٹ بولتے ہیں ،گالیاں دیتے ہیں ،فخش کام کرتے ہیں اور اہل جنت شراب پی کر حکمت کی باتیں کریں گےاور عمدہ کلام کرٰیں گےکیونکہ ان کی عقلیں اور ہوش وحواس قائم ہوں گےجس ترح دنیا میں اولیاالله کرام الله تعالی کی محبت اور معرفت کے نشہ میں مخمور ہوتے ہیں اور وہ معارف کی اور حقائق کی باتیں کرتیں ہین (۱۴)""-

پښتوترجمه:جنتيان به شراب نوشۍ سره داسې کارونه نۀ کوي چې نسبت ئې ګناه ته کېږي-لکه څنګه چې عام خلق شراب وۀ سکي او دروغ وائي ،کنځلې کوي او فخش کارونه کوي او جنتيان به شراب سکلو سره د حکمت خبرې کوي،سنجيده بحث و مباحثه به کوي ،ځکه چې د هغوي عقل او هوش به په ځاے وي-څنګه چې په دينا کښې اولياالله کرام د محبت او معرفت نشه کښې مست وي او د معرافو او حقائقو تذکرې کوي- او س په دې حوله د حميد بابا دا شعرونه ولولئ چې څومره د معارفت نه ډکه د حقائقو ژوره عکاسي کوي-

**په يو هسې مغرور حسن مبتلا شوم**

**چې لري ترنمر سپوږمۍ نظر دپاسه (۱۵)**

**د مقصود درمې ونۀ ليدۀ تيارۀ شوه**

**صبحدم د يار و مخ کړۀ راته شام خط(۱۶)**

**په وړومبي بيت کښې د نمر،سپوږمۍ نه د حسن لوړتيا د عشق حقيقي محور يعني مطلق حسن ته اشاره ده،چې د عرفاني رموزو نه ډک پېغام لري-دوېم بيت کښې په مظاهرو کښې د انجذاب خبره ډېره په شدت سره شوې ده،چې د حقيقي مقصود په لټۀ کښې شاعر د خپل ځانه ورک دے-**

په عرفاني فکر کښې ژوند يو فاني سفر ګڼلے کېږي او مرګ د فنا نه بلکې د بقا ،حقيقت او الهي معرفت يو اغاز ګڼلے کېږي-دلته اختتام د اغاز دروازه شي او انجام د حقيقت د انجام نوم واخلي - د هم دغې عرفاني فکر له رويه حميد بابا هم د دنيا د بې ثباتۍ نۀ سترے ښکاري او د مرګ فلسفه د نوي روحاني درک په توګه وړاندې کوي-دنمونې په توګه ئې دا شعر ولولئ:

څو به ګورم د قيامت و ورځو شپو ته

د انجام په دم قدم کښې دې اغاز را(۱۷)

""ورځې شپې ""د دنيا د زوال ،ناقرارۍ ،بدلون او د فاني حېثيت نمائندګي کوي- ""قيامت"" نه يواځې د اخرت

،بلکې د دنیاوي اضطراب،درد او ظاهري بې ثباتۍ ته هم اشاره کوي-په مجموعي توګه حمید بابا یو ژور عرفاني انکشاف کوي یعنې د مادي نړۍ نه بېزاري او جاودانه حقیقت اړخ ته مېلان لري- حمید بابا اګرچې ترډېره حده مجازي ژبه استعمال کړې ده او په هم دغه اساس په مجازکښې محوه هم ګڼلے شوے دے –تر دې چې په یو هلک د مئینتوب ذکر ئې هم کېږي ،خو حمید بابا لکه چې بره ئې ذکر وشو ،دغه هرڅۀ فاني ګڼي – د ظاهري زیبائش او ارائش نه سترے او د حقیقت په لټه کښې دے لکه ښکلا،اشنا،کوڅه،لمبې،حسن،بوسه او داسې نور د مجازي ژبې استعمال دے،خو بابا دا یادونه د خدائے د حسن دروازه بولې: لکه چې وئې:

چې قدم مې د اشنا په کوڅه کښېښود
د سر سترګې مې بېنا شوې په تلو کښې(۱۸)

په دې اساس اوس داخبره بیخې واضحه شوه ،چې بابا په ظاهره خو ژبه د مجازي عشق کاروي ،خو هدف ئې حقیقي عشق دے – د ظاهرنه باطن ته ،د مجاز نه حقیقت ته او د انساني ښکلا نه الهي معرفت ته روان دے- لکه دا شعر ئې څومره واضحه پېغام لري:

تن پرور بلبل دې عیش کاندي په ګلو
پروانه لره په اور زما ګداز را(۱۹)

دلته وړومبۍ مصرعه د دوېمې تقابل کښې راوړلې شوې ده-"تن پرور بلبل دلته د هغه عاشق علامت دے ،چې یواځې د ظاهري ښکلا ،رنګونو او خوشبوئۍ نه خوند اخلي،خو دعشق د اصلي فنا،درد او فداکارۍ درک نۀ لري- مطلب د ګلونو د ظاهري ښکلا نه خوند اخلي،نغارې وهي خو په شمع د پروانې غوندې ځان نۀ سوزوي-کۀ په غور سره وکتے شي نو شاعر دلته د مجازي عشق یا سطحي ښکلا نقد کوي-حمید بابا دلته د مجازي او حقیقي عشق توپیر بیانوي-بلبل د ګلو خوشبوئۍ ته راځي ،نعرې وهي،مستي کوي ،خو فنا نۀ مني- پروانه کۀ څۀ هم خاموشي لري،خو ځان په اور کښې اچوي ،چې هم دا د عشق کمال دے-شاعر خپل سوز د پروانې د اور سره مقائسه کوي ،چې په خپل ذات کښې دننه د حقیقي عشق واړۀ لوازمات او تلازمات لري-ځکه چې حقیقي عاشق د ظاهر نه ،بلکې د سوز په ژبه خبرې کوي-هغه څوک چې د تن عیش ته تسلیم وي د عشق د حقیقت نۀ ډېر لرې دي- ترڅو چې د حمید بابا په حواله هم جنس پرستۍ خبره کېږي نو زما د ذاتي خیال په بنیاد هېڅ حقیقت نۀ لري- د خالق حقیقي له لوري انسان ته د"احسن تقویم" نسبت کلي دې،نه چې جزوي-دا وړوکې نسبت نۀ دې ځکه چې ښکلا د خالق حقیقي صفت دے- ,, قاضي ابوبکر بن العربي فرمائي چې انسان د الله تعالی د صفاتو مظهر دے(۲۰)- د حضور صلی الله علیه واله وسلم حدیث مبارک دے ،چې :

"ان الله خلق آدم علی صورته" ترجمه: بې شکه الله تعالی آدم په خپل صورت پیدا کړے دے-تفسیر تبیان القران د دې حدیث په شرح کښې لیکي چې : ,, د علما کرامو په رو سره په دې حدیث کښې "صورت " د صفت په معنی دے-ځکه چې الله تعالی د صورت معروفې معنې نه پاک دے- یو څېز هم د الله تعالی په مثل نه شي کېدے-انسان عالم صغیر دے او د عالم کبیر هره نشاني په عالم صغیر کښې موجوده ده"-(۲۰)دلته اوس خبره بېخي واضحه شوه ،د حمید بابا په رنګ عرفاني شاعران چې د کومې ښلا تذکرې کوي،محور ئې هم دغه عالم کبیر دے،نه چې زمونږ بې بنیاد تاویلات- د موضوع په مناسبت سره دا دشعرونه ئې ولولئ:

د بوسې په هوس غم کړم الوده
بدبختۍ مې وویست غاښ په پالوده
چې په وصل مې دارو د هجر نۀ شي
دا په څۀ توره بلا شوم الوده(۲۱)
نن ساعت د عاشقۍ په کاروبار کښې
مجنون نۀ ګڼم تر ځانه آزموده(۲۲)

په وړمبي شعر کښې "" د بوسې"" تکے په ظاهره خو مجازي معنی ته رجحان لري،خو په حقیقت کښې یو ډېر لوے عرفاني مفهوم لري-د بوسې نه مراد په حقیقي عشق کښې وصل " دے یعنې د نزدیکت حصول دے- په دویمه مصرعه کښې وائي چې ''بدبختۍ مې وویست غاښ په پالوده'' مطلب د عام اولس

سطحي شعور ته اشاره ده-بل په اخري شعر کښې کۀ وکتے شي،نو حميد بابا د خپل حقيقي عشق پاکه او سپېڅلي مقدمه ډېره په قوي دلائلو سره وړاندې کوي-په مجازي شاعرۍ کښې په عامه توګه د مجنون عشق ،د مجازي عشق انتها ګڼلے شي،خو دلته ''حميد بابا وائي چې "'مجنون نۀ ګڼم تر څانه ازموده''-دا محض شاعرانه تعلي نۀ ده،بلکې حقيقي عشق ته په مجازي عشق د سبقت مهر هم دے او په حصول ئې د وياړ څرګندونه هم ده- دا حقيقت دےچې د حميد بابا په شاعرۍ کښې چرته هم مخ ،خط،بوسه يا اشنا ذکر راغلے دے ،محض د مجازي عشق دليل ګرځولے شوے دے،خو پس پرده حقائق تل نظر انداز شوي دي-جلال الدين رومي فرمائي چې:

''باخيالے ميل تو چون پر بود تابدان پربر حقيقت پر شود(۲۳)

عشق مجازي د حقيقت پل دے-خو مقصود اصل حقيقي دے-مجاز محض يوه ذريعه ده-دغه شان په مظاهرو (يعني کائنات) د ظاهر (خالق حقيقي)مشاهده په کار ده-کۀ چرې محض د مظاهر پورې محدود پاتې شي،ناکامي ده''(۲۳)بل ځاے وائي :

''تو مبين اين پا يها را بر زمين زانکه بر دل ميرود عاشق يقين(۲۴)

مطلب: د عاشق اصلي سير د هغۀ په زړۀ کښې وي-اګر چې ظاهري سير ئې په زمکه د خپو سره وي،خو په کمال عشق کښې اعضا د روح تابع کېږي-هم د دې لامله نۀ ستړے کېږي –او نه په دغه لاره کښې د خارد و خارا د شهواني مېلاناتو يا خيالاتو استعارتي مفهوم دے) د اثر د لاندې کېږي'(۲۴)

پروفيسر يوسف سليم چشتي ليکي چې:"" عشق کامل يہ ہے کہ سالک کی نگاہ ،ماديات کے حسن و جمال سے بلند ہوکر خالق ماده و اجسام پر مرتکز ہوجائے (۲۵)" کامل عشق دا دې چې د سالک نظر د مادي څېزونو او جسماني ښکلا نه بالا تر شي او د خالق په حسن و جمال مرتکز شي-په دې تناظر کښې چې دحميد بابا کلام ته ګورو ،نود عشق حقيقي په يو داسې مقام کښې دې چې د کائناتو په ذره ذره کښې د مطلق حسن ننداره کوي،د نمونې په توګه دا شعرونه ولولئ:

چې دې درست جهان د حسن تماشبين شو
ځکه ځان ته غره تللے خود بين تۀ ئې ديوان (۲۶)
هر ساعت لکه خليل په عاشقۍ کښې
تماشه کړم د ګلزار په سرو لمبو کښې(۲۷)
چې په هر در و ديوار دې پرتو لګي
**هغه هسې رنګ افتاب مبين تۀ ئې(۲۸)**

کۀ ژور نظر سره وکتے شي ،نو حميد بابا دلته د مظاهرو په اساس د حقيقت په ادراک کښې دے-کۀ د انساني اعضاو بطوراستعاره يا اصطلاح د تخصص خبره شي يا د نارينه حسن ته د رجوع نو دا په اصل کښې د قران کريم ,,د احسن تقويم،، سره د عين مشابهت په اساس يو قسم له د دوي د جمال د نظرئې د انفراديت عکاسي هم کوي- په مظاهرو يعنې په کائنات کښې چې کومه ښکلا ده،دا يو مخصوص قوت کشش لري،(انساني ښکلا ته په کښې انفراديت حاصل دے)چې د عرفان په اصطلاح کښې ورته د جذب او انجذاب اصطلاحات کارولے شي-""د جمالياتو يو مشهورفلسفي لپس (مړينه ۱۹۱۴)ليکي چې حسن او عشق دوه قوتونه دي،چې د " جذب او انجذاب " په نامه ئې بولي چې کوم ښکلي څېز يا مشهود ته مونږ ګورو نو په هغه کښې ځان جذب کوواو دغه جذب کېدل د حقيقت سره وصل کېدل دي-بل خوا مشهود هم د انجذاب قوت لري(۲۸)"-دې اقتباس دوه ډېرې مهمې نقطې په ګوته کړې شوي دي،يوه دا چې په مشهود يعني ښکلے څېز کښې جذب کېدل او دوېمه دا چې ""مشهود"" ،کوم ښکلے څېزچې کتلے کېږي )خپله هم انجذاب لري-په دې اقتباس کښې چې مشهود هم انجذاب لري ،دا معنې چې هر ښکلے څېز(د انسان په شمول چې انفراديت لري) د الهي صفاتو نه عبارت دے،په کښې جذب کېدل د حقيقت وصل دے-ګل،ګلاب،زلفې،بوسه،مخ ،سترګې،نرګس،خط او داسې نور ډېر په حقيقت کښې د مطلق حسن نقل يا عکس دے- اوس په دې خبره کښې هېڅ د شک څۀ ګنجائش پاتې نه شوچې ګني د حميد بابا په شاعرۍ کښې د مخ،زلفو يا خط ذکر څۀ جنسي تخصص لري-بلکې په هرڅۀ کښې د خپل حقيقي محبوب نطارې کوي-لکه چې وائي:

تورې زلفې سپين رخسار د نګار وينم(۳۰)
د جهان په هر سفيد په هر سياه کښې

چې په هر در و دیوار دې پرتو لګي
هغه هسې رنګ افتاب مبين تۀ ئې(۳۱)
په عرفاني تفکر کښې نړۍ دينا يواځې دا نه ده چې صرف په سترګو ليدے شي،بلکې دا يو امتحاني ډګر دے،چې د انسان روح له دې لارې د کمال سفر ته روانيږي-د حميد بابا غوندې عارف شاعر هم د دغې د فريبونو نه تنګ شوے او د حق تعبير په لټه کښې دے-دا شعرونه ئې ولولئ:
څو به ګورم د قيامت و ورځو شپو ته(۳۰)
د انجام په دم قدم کښې دې اغاز را
دانايان په دنيا نښته سره نۀ کا
دا په دا چې په مرداره سګان نښلي(۳۱)
د صوفياو يا عارفانو (صوفيا يا عارفانو د يوځاے ذکر دا معنی نۀ چې ګنې داړه يو څيز دے ،بلکې په دې چې دواړه عشق د خپل منزل سرچينه ګڼي)د عشق ارتقائي سفر او جهد تسلسل د ډېرو معروضي حقائقو نه عبارت دے- عشق د هرې کاميابۍ اساس دے، خو ځان پيژندنه ئې شرط دے. ځکه تر هغه وخته چې انسان خپل نفس، خپل مقام، خپل رب او د خپل وجود مقصد وۀ نه پيژني، تر هغې پورې د عشق حقيقي توان او جهت نه شي درک کولے. عشق يواځې يو روحاني تصور نه دی، بلکې د ژوند د معروضي حقائقو سره هم ژور تړاو لري.د صوفيانه فکر له مخې، عشق يوازې د اخروي نجات وسيله نه ده، بلکې د دنيا د اصلاح، خلاقيات، او انساني عظمت بنسټ هم دے. هم دا وجه ده چې د نړۍ د بېلا بېلو شعبو سره تعلق لرونکي لکه سائنسدانان، فنکاران، مصلحين يا متفکرينو د بريا په شا يو مسلسل جهد، محنت او خلوص پروت وي.دا جهد، تسلسل يا مخصوص هدف عشق نۀ دې نو څۀ دي؟ هم دغه جهد و تسلسل ته صوفياء د "عشق" اصطلاح کاروي. يعنې عشق د يو جذبې، يو فطري ميلان، يو روحي قوت نوم دې، چې انسان د مقصد، معنې او حقيقت لور ته مائله کوي کۀ هغه مقصد علم وي، هنر وي، خدمت وي، يا وصالِ الهي وي. نو ځکه، د صوفياء او عارفينو د عشق تذکرې تش خيالي يا مبهم خبرې نه دي، بلکې د ژور ادراک او فکري بصيرت تقاضا کوي. دا هغه عشق دی چې د دنيا او آخرت دواړو ته رڼا ورکوي، خو خپل حقيقت يوازې هغو ته څرګندوي، چې د ځان پيژندنې په لوازماتو پوره وي.

## حواله جات:


۱-نفيس اقبال،ډاکټر،چند صوفيانه اصطلاحات،لاهور،سنګ ميل پبلی کيشن،۲۰۱۷،مخ ۱۳۶
۲- امير حسن اعلی سنجری،کتاب عشق(اردو ترجمه پروفيسر ايس ايم لطيف الله)،کراچی،فضلی سنز لميټډ،مخ۱۵
۳ - هم دغه مخ،هم دغه
۴- مجدد الف ثاني،ترجمه مکتوبات صدی،جلد دوم،مترجم حضرت شاه الياس ،ياس بهاری فردوسی،ملتان،سيد اليکټرک پريس،۱۹۶۸،مخ ۳۳۳
۵- مولانا وحيدالدين،کتاب معرفت،نيو دهلی ،نظام الدين ويسټ مارکيټ،۲۰۱۳(طبع دوم)مخ،۵
۶-هم دغه،مخ۹
۷. ډاکټر نفيس اقبال،چند صوفيانه اصطلاحات،مخ ۱۳۴
۸. هم دغه مخ
۹. محمدحفيظ الرحمن،ډاکټر،تصوف اور معرفت،دهلی،روشان پرنټرس،۲۰۲۳،مخونه۱۵۵،۱۵۶
۱۰- جيلاني ،سيد انوارالحق،ډاکټر،د عبدالحميد بابا ديوان در او مرجان،پيښور،يونيورسټي بک ايجنسی،۱۹۷۸،مخ ۱۱۵
۱۱. سيد ،محمد ذوقي ، سردلبران ،کراچي ، کور کارټن انډسټري ،طبع پنجم ، کال ۱۴۱۸ ،مخ :۲۲،۲۳
۱۲. د عبدالحميد مومند ديوان در او مرجان،مخ ۲۷
۱۳. غلال رسول سعيدی ،علامه، تفسير تبيان القرآن،جلد ۱۰ ،الطبع السابع،لاهور،رومی پبليکيشنزاينډ پرنټرز،۲۰۱۲،ص۸۷۲

۱۴. هم دغه ،مخ ۸۷۲
۱۵. عبدالحمید مومندکلیات،سمونه او څېړنه: محمد آصف صمیم،دانش خپرندویه ټولنه،۲۰۰۴،مخ ۱۸۴
۱۶. د عبدالحمید مومند دیوان در او مرجان مخ ۱۰۷
۱۷. هم دغه مخ ۲۷
۱۸. دعبدالحمید مومند کلیات،۲۴۵
۱۹. د عبدالحمید مومند دیوان،مخ ۲۷
۲۰ تفسیر تبیان القران ،مخ ۴۴۸
۲۱.د عبد الحمید مومند دیوان،مخ ۱۷۹
۲۲. هم دغه ،مخ
۲۳. مفتاح العلوم،شرح مثنوي مولانا روم،جلد اول ،از مولوي محمد نذیر عرشي نقشبندي مجددي،لاهور،شیخ غلام علي اینډ سنز لمیټډ،مخ ۳۰۵
۲۴.هم دغه مخ ۲۷۷
۲۵. چشتي یوسف سلیم،پروفېسر،تاریخ تصوف،علما اکیډمي محکمه اوقاف،پنجاب لاهور،۱۹۷۶،مخ ۹۵
۲۶. د عبدالحمید مومند کلیات،مخ ۲۶۰
۲۷- هم دغه ،مخ ۲۴۵
۲۸. هم دغه،مخ ۲۶۰
۲۹. د واصل روښاني دیوان،سمونه او څېړنه پروفېسر پرویز مهجور،پښتو اکیډمي کوئټه،۲۰۲۰،مخ۳۲
۳۰. عبدالحمید مومند دیوان،مخ ۲۷
۳۱. د عبدالحمید مومند کلیات،مخ ۲۴۷